| **Political** | *سیاسی* |
|---|---|

## دتاريخي لوي يرغل په شتون كي
## دلاسه وتلي استقلال لمانځل


انجير سيد عبدالقادر


۱۹ ــ ۸ ــ ۲۰۰۹

داولس به يـو ځـاي كيـږي
پــه يــو ږغ به راپـاڅيـــږي
هر يرغل ته به سپر كيـــږي
غلـيمان بي محوه كيــــږي
دغـــه چيـــغه دافــغـان ده
داوطن به آزاديږي
داوطن به آزاديږي
مور ماشــوم به خـوشـالـيـــږي
مـخ دواكمـــنو به تـــوريـــږي
شـــوم پلانـــونـه بي شـــنديږي
شتـــمني دغــلابي ملي كيـــږي
دچا خوښه يا نا خوښه دابه كيږي
داوطن به آزاديږي
داوطن به آزاديږي

دافغان يرغمل سوي ولس لاس پوخي واكمنان دافغانستان د سپيڅلي استقلال ۹۰ يمه كاليزه په داسي وخت كي دافغان ولس دتير وتلو له پاره په داخل اوهم په افغاني سفارتونو كښي په ډيرو لوړو شاندارو مراسيمو باندي لمانځي ٠ چه په وطن كښي دير غلګرو دحاكميتونو په مستقيمه لاربنوونه او حمايه باندي يوه لويه سياسي لوبه دټولټاكنو تر نامه لاندي شروع سوي ، چه داسد پر ۲۹ مه نيته به دالوبه وپاي ته ورسيږي ٠ چه په پايله كي به دامريكا تر رهبري لاندي غربي نړي خپل لاس پوخي په اصطلاح نوي اداره دپينځو نورو كلونو له پاره انتصاب ا و پر افغان يرغمل سوي ولس باندي به يي دناټو دبي رحمه ځواک په زورتحميل کړي ٠ اوهم داډول امريكا او د غربي نړي واكمنان به دااانتصاب او يرغلي بهير وخپلو ولسونو او نړيوالو ته په جمعي رسنيو كي يو دموكراتيک انتخاب او بهير وبولي ٠
دا ځكه دنړي په هر ګوټ كښي په ځانګړي توګه تر ساړه جنګ وروسته چه امريكا او غربي نړي پر مظلومو ولسونو باندي په سياسي ،اقتصادي او نظامي پلوه هريټ او ښكاره تيري ، ظلمونه او ناخوالي چه دخپلوشومو اقتصادي مخو له پاره دخپلولاس پوخوواكمنو او يا په مستقيمه توګه ددوي له خواه تر سره كيږي او يا سوي دي ، لكه پر افغان ولس باندي چه داتو كلونو راهيسي تيريږي ، دوي داټوله خپلي هلي ځلي يعني اقتصادي او بشري جنايات دموكراسي دپولي كولو ، مخدره موادو له منځه تلو او دتروريزم پر ضد دمبارزي تر نامه لاندي په غربي جمعي رسنيو اوهم ددوي تر اشغال لاندي هيوادونوپه جمعي رسنيو كښي تبليغوي ٠
اوس نو داسي يو سوال پيداكيږي چه په داسي يوه هيواد كښي چه هغه د۴۲ هيوادونو له خواه ځخه داتو كلونو راهيسي داسي تر يو لوي وحشيانه يرغل لاندي راغلي وي ،چه هره ورځ نه يوازي دا يرغلي

ځواک بې ساري تاريخي بشري جنايات تر سره کوي ، بلکه وځنګ ته يې د ولس د شتمنيولويې زيرمې ـــ منقوله اوغيري منقوله ـــ خپل تر منځ ،اوهم دخپلو لاس پوځو او لوي جنګ سالارانو تر منځ په سخاوتمندانه ډول تقسيموي ٠ نوپه داسې يوه وخت کښې

ايا يو تعداد افغاني روشنفکرانو ـــ مستقل سياسي کاړپو هانو ، سياسي او اجتماعي سازمانونوـــ ته دا ښايي چه دلاس پوځو واکمنانو سره يو ځاي دادافغانو دتاريخي وياړه ډکه ورځ دتل دوي استقلال تر سپيڅلي شعار لاندي ولمانځي ؟ په داسې حال کې چه زموږ پاکو اجدادو او نيکونو دستر ملي قهرمان غازي امان الله خان تر مشري لاندي دهغه سره استعماري انګريز ځخه په لويه ا فغاني سر ښندنه او قرباني باندي خپل وطن آزاد او دغلیمانو ځخه يې پاک کړ ٠ چه دوطن دآزادي له پاره ددوي داسر ښندني دهر افغان لپاره په هر وخت او هر ځاي کې چه وي دقدر او وياړ خانګړي ځاي لري ٠ولي متاسفانه چه نن هغه انګريز دنورو يرغلګرو سره يو ځاي نه يواځي دارګ په ماني کې شپې او ورځې تيروي ، بلکه هره شپه او ورځ زموږ ډير افغاني ماشومان ، ښځې ، زاړه اوځوانان دمملکت په ګوټ ګوټ کښې دخپلو الوتکو په بمباردونو باندي په شهادت رسوي ، او ددوي دشومو سياسي او اقتصادي اهدافو قرباني کيږي ٠ اوباید وويل سي چه دامريکا ولس مشر او با ما هم دافغانستان داستقلال د٩٠ يمې کاليزي په وياړ محترم حامد کرزي او افغان ولس ته مباره کې وويل ٠ په داسي حال کښي چه افغان ولس دامريکا تر رهبري لاندي د٤٢ هيوادونو تر مستقيم ير غل لاندي داتو کلونو راهيسي خپلې شپې او ورځي سبا کوي ٠ او توله خپلواکي يې دلاسه ورکړي ده ٠ اوهم بايد وويل سي چه او با ما تقريباً دوي مياشتي مخکې دمصر دالا ظهر په پوهنتون کې ديوي مفصلې وينا په تر خ کښي داسې وويل :

امريکا ابرو مندانه از آزادي ملت ها ، واصولي قانون دفاع خواهد نمود ٠ وما با جوامع مسلمان که نيز مورد اين تهديد قرارګرفته اند ، ياری وهمکاری خواهيم نمود ٠

ولي دوينا په يوه بله برخه کې دموکراسي په هکله يې بيا داسي ويلي دي :

هيچ سيستم دولتی نبايد بـالای ملتی از سوی ملتی ديګر تحميل شود دامريکا يې واکمنانودپورتنيو څرګندونو ځخه په ښکاره ډول معلوميږي چه دکاغذيږ مخ يو څه او په عمل کښي نور څه تر سره کوي ٠ که دامريکا مشر تابه خپلو پورتنيو څرګندونو ته په ريښتينه توګه معتقد وي ، نو ځنګه بيا ځان ته دا حق ورکوي او افغانانو ته ديوه داسي استقلال مباره کي وايي چه هغه استقلال داتو کلونوراهيسي دوي دجيټ اوب ٥٢ الوتکو دبمباردونو په زور په خپلو لاسونو کښي نيولي دي او په مملکت کښي هر څه ددوي دخوښي سره سم مخ ته ځي او افغانستان يې دجهان دلويو قدرتونو داستخباراتو په مرکز باندي تبديل کړي دي ٠

ځکه نو لازمه ده چه موږ افغانان ددغي لوي تاريخي ورځي دلمانځني په درشل کي بايد دبيا خپلواکي له پاره پر يوه داسي د سياسي حل پر ميکانيزم باندي خبري او تفاهم وکړو ، چه دهغه دعملي کيدو په نتيجه کښي دافغانستان اوسني لانجه دحل ريښتينه سياسي لاره پيدا کړي ٠

او داهغه وخت کيدلايسي چه افغان روشنفکران ژر تر ژره په داخل او بهر کښي خپل تر منځ يو تفاهم ته ورسيږي ٠ دا تفاهم کيدلايسي دافغانانو تر منځ دتليفوني اړيکو ، ايميلونو او جلساتو له لاري تر سره سي ٠ چه دسياسي حل دميکانيزم تر جوړيدو وروسته بايد داميکانيزم ديو ه با صلا حيته افغاني منتخب کميسون له لاري دامنيت شورا ته وسپارل سي ، چه په پلي کيدو سره به يې انشاالله دادځولسيزو جګړي ته به دپاي ټکي کښيښوول سي ٠

ومن الله توفيق